# د ټاکنو خپلواک کمیسیون پرېکړه لیک

**شمیره:** ۲۲- ۱۳۹۳

**موضوع:** د هغو یو شمېر محافظتي کڅوړو څېړنه چې ستونزې لري.

**پلې کوونکې مرجع:** د ټاکنو خپلواک کمیسیون دارالانشاء

**د غونډې نېټه او ځای:** د ۱۳۹۳ د چنګاښ څلورمه (د ۲۰۱۴ کال د جون ۲۵ مه)د ټاکنو خپلواک کمیسیون مرکزي دفتر

**حاضر غړي:** ښاغلی داکتر احمد یوسف نورستاني، ښاغلی عبدالرحمن هوتکی،آغلې ګلالۍ اڅکزی،ښاغلی سریر احمد برمک، ښاغلی پوهاند محمد حسین ګرزیوانی، ښاغلی محمد عزیز بختیاری، ښاغلی قاضی سلیمان حامد، آغلې لیلا احراري اوآغلې شریفه زرمتۍ وردک.

د ټاکنو خپلواک کمیسیون د ټاکنو خپلواک کمیسیون او ټاکنیزو شکایتونو خپلواک کمیسیون د تشکیل، دندو او صلاحیتونو قانون د ۱۳ مادې او ټاکنو قانون د ۵۸، ۵۹ او ۶۵ مادو پر اساس پرېکړه وکړه چې:

۱. په هغه صورت کې چې د تفتیش په پایله کې د ښاغلیو نوماندانو رأیې زیاتې او کمې شي، د پایلې په فورمه کې د رأیو زیاتیدل او کمیدل د ټاکنو خپلواک د رییس په لاسلیک تر سره کیږي.

۲. د ننګرهار ولایت د رأیې ورکونې د(۰۶۰۴۱۲۲)مرکز په (۰۱ ) محل کې د دې له پاره چې د یو نوماند رأیې تر کاغذ لاندې اسکاشتیپ شوې وې، او په آسانی سره د لوستلو وړ نه وې، په شنه قلم او د کمیسیون د ښاغلي رئیس په لاسلیک سره اصلاح شوې.

۳. د پکتیکا ولایت د رأیې ورکونې د(۱۲۱۱۱۷۳) مرکز د ټولو محلونو رأیې چې د رأیې شمېرنې په مرکز کې د هغو د شمېرنې په اړه رپوټ نه وو موجود او برعکس د ولسوالی په مرکز کې شمېرل شوې وې، نو له دې کبله دې تفتیش او بیاوشمېرل شي.

۴. د رأیې ورکونې د (۲۱۱٤۲۹٤) مرکز د ټولو محلونو رأیې دې له دې امله باطلې شیچې صندوقونه په کې د غیر مسوولو وسله والو له خوا په زور ډک شوي دي.

| له پرېکړې سره مخالف | د غړیونومونه | له پرېکړې سره موافق |
|---|---|---|
| | ښاغلی داکتر احمد یوسف نورستاني | |
| | ښاغلی عبدالرحمن هوتکی | |
| | آغلې ګلالۍ اڅکزی | |
| | ښاغلی سریر احمد برمک | |
| | ښاغلی پوهاند محمد حسین ګرزیوانی | |
| | ښاغلی محمد عزیز بختیاري | |
| | ښاغلی قاضي سلیمان حامد | |
| | آغلې لیلا احراري | |
| | آغلې شریفه زرمتۍ وردک | |